شهادت

ارګان مرکزی حزب اسلامی افغانستان

(٤) صفحه

شمارهٔ مسلسل (۹۸۳) سال هژدهم -شمارهٔ (٦٧) پنجشنبه (١٦) سنبله ١٣٧٤ هـ ش (١٢) ربیع الثانی ١٤١٦هـ ق (٧) سپتمبر ١٩٩٥ م

قیمت (٢٠٠) افغانی (٢ روپیه)

حزب اسلامی په کابل کی د پاکستان په سفارت برید محکوم کړ

دسنبلی ۱۵ مه .

پرون د حزب اسلامی دارشاد اوفرهنګ رئیس اودحزب ویندوی استاد قریب الرحمن "سعید" په کابل کی دپاکستان په سفارت باندی برید محکوم کړ او هغه یی دافغانستان اوپاکستان دوروڼو ملتونو ترمنځ ددښمنی دراولاړولو لپاره دکابل اوهند دجاسوسی شبکو ګډه توطیه وګڼله .

استاد سعید وویل چی دجهاد په اوږدو کی دپاکستان اوافغانستان دوروڼو ملتو نو ترمنځ داخوت او علاقی یوه مثالی رابطه ایجاد شوه اوزموږ ملت به دپاکستانی ولس هغه مرستی او پیوستون هیڅکله هیرنکړی چی دروسانو او کمونستانو پرخلاف دجهاد په اوږدو کی یی له موږ سره کړی دی.

باید پاکستانی قوم په کابل کی دخپل سفارت دسوځیدو پیښه ، دیوه مزدور تولګی غیر مسئولانه عمل وګڼی اوپه هیڅ توګه یی زموږ دولس په نظر اواراده پوری مربوط ونه بولی.

په کاپیسا کي دقوماندان حبیب اوشاهین پلویانو یو له بل څخه لس کسه ووژل

کاپیسا -دوري (١٥)

په کاپیسا ولایت کي دنظار شورا دقوماندانانو ترمنځ اختلافونه راولاړ شوي اویودبل په خلاف یي وسله اوچته کړي ده .

یوي باوري منبع پرون دشهادت خبریال ته وویل چي دتیري دوشنبي په ورځ دده بالي په بنار کي دقوماندان حبیب اوقوماندان شاهین دپلویانو ترمنځ په یوه دوه ساعته جګړه کي (١٠) کسه مړه او (٣) کسه ټپیان شوي دي .

منبع وویل چي اوس په نوموړي ولایت کي دکابل اداري دټولو قوماندانانو ترمنځ بي باوري رامنځ ته شوي اوهره لحظه یي دجګړي ویره راپیداکړي ده .

بدخشان وبامیان کاملاً بدست شورای هماهنگی افتاد

فیض آباد - ١٥ سنبله :

با پیوستن قوماندانان جهادی بدخشان به شورای هماهنگی ، ولایت بدخشان بصورت کامل ازتسلط ادارهٔ کابل آزاد گردید.

منابع جهادی درشمال کشور طی تماس مخابروی گزارش دادند که جناب مولوی خردمند وعبدالبصیر خالد همراه با قوماندانان وسایر نیروهای موجود دربن ولایت همکاری شان با اداره کابل راقطع نموده به شورای هماهنگی پیوستند . درگزارش گفته شده که اکنون درولایت بدخشان امنیت بصورت کامل تامین بوده اوضاع تحت کنترول نیروهای شورای هماهنګی است .

جناب مولوی خردمند وعبدالبصیر خالد قبلاً شهر فیض آباد مرکز بدخشان ونواحی آنرا تحت کنترول داشتند.

گزارش دیگری حاکیست که بافتح مرکز ولایت بامیان بدست نیروهای شورای عالی

ص (٣)

سفارت پاکستان درکابل طعمهٔ آتش شد

کابل - ١٥ سنبله .

جمعیتی از شهریان کابل قبل از ظهر دیروز دراعتراض به آنچه که مداخله پاکستان درامور داخلی افغانستان عنوان شده ، دست به تظاهرات زده سفارت پاکستان در شهرکابل را به آتش کشیدند.

گزارش های رسیده ازکابل حاکیست :

درجریان این تظاهرات که به درگیری وخشونت انجامید یك دیپلومات پاکستانی کشته و (١٥) تن دیگر کارمندان سفارت جراحت برداشته اند. درگزارش گفته شده که یك نفر افغان کشته و ٢١ تن دیگر از تظاهرکنندگان جراحت برداشته و تمام

ص(٤)

دایران سفیر دکابل اداری مسؤلین یوموټی کیدو ته راوبلل

مسعود ،خالص یامجددی ته دقدرت دلیږدولو دطرحی مخالفت وکړ

سیاف : باید په هره بیه کندز اوتخاروساتو

ربانی : دهرات دسقوط مهم عامل دقوماندانانو داخلی اختلاف و

مسعود : دشیندند اوهرات دسقوط له پاره له بهرنه خکه مداخله وشوه چی دکابل ، تهران ،مسکو اودیلی ترمنځ دپوخی تړون هڅی روانی وی

مسعود : دسقوط عامل اختلاف نه بلکی دتورن اسمعیل بی کفایتی وه

دریم مخ

نامهٔ ازمونشن

ص (٢)

ببرك "کارمل" ولي مسکوته ولاړ؟

(٣)مخ

دشپی په لسو بجو په ماهیپر کی دنظارشورا برید ناکام کړای شو

سروبی د وږی ١٥ / ١٦

تر پرله پسی ماتیو وروسته. تیره شپه په (٨) بجو یوځل بیا دنظارشوری پلویانو په ماهیپر کی دخواجه شیر بابا دشمال اوجنوب له لوری دحزب اسلامی دځواکونو په خلاف په یوه تعرضی بریدلاس پوری کړ.

په ماهیپرکی دحزب اسلامی دنظامی ځواکونو عمومی قوماندانی یوه مسئول خبرځای په مخابروی ربوټ کی دشهادت خبریال ته وویل چی جګړه دشپی ترلسو بجو په شدت روانه وه دښمن ځواکونه نه یوازی دا چی په شاوتمبیدل بلکی دهغوی (٦) کسه ټپیان دجګړی په میدان کی پرځای پاتی شول.

(٣)مخ

يك هیئت حزب اسلامی ازنمایشگاه تصویری مجمع آرتستهای افغان دیدن کرد

پشاور - ١٥ سنبله .

به اساس دعوت درمجمع آرتستهای افغان " يك هیئات حزب اسلامی افغانستان ازنمایشگاه تصویری این کانون هنری درپیشاور دیدار بعمل آوردند.

خبرنگار شهادت گزارش می دهد هیئات مذکور که مشتمل بر محترم استاد قریب الرحمن سعید رئیس ارشاد وفرهنگ حزب

ص (٢)

طالبان په کابل دلوی برید پلان جوړوی

له ارغندۍ نه یی دپغمان په لور په تعرضی حملو لاس پوری کړ

میدانښار - د وږي (١٥)

دهیواد په جنوب غرب کي دطالبانو تر څیلو وروستیو بریالیتوبونو وروسته اوس خپل ټول قوتونه کابل ته سوق کړي اوغواړي چي په کابل باندي هم یوه لویه جګړه پیل کړي.

په کویټه کي دطالبانو یوي باوري منبع پرون شهادت ته وویل چي طالبانو

(٤)مخ

احمدشاه "احمدزی" مولوی صاحب "خالص" ته دقدرت دانتقال طرحه وړاندی کړه

دننګرهار له شوری څخه یی دمرستی غوښتنه وکړه

وجلال آباد - دوږي ١٥ مه .

دکابل اداري دصدارت سرپرست انجنیر احمدشاه "احمدزي" ورمه ورځ جلال آباد ښار ته راغی اوهلته یې دننګرهار له شوری نه وغوښتل چي دکابل اداري ملاتړ وکړي اوده په اصطلاح دهغه ګډ خطر په وړاندي ورسره ودریږي چي دکابل اوجلال اباد دواړه حاکمیتونه تهدیدوي .

یوي باوري منبع وویل چي ننګرهارشوري له احمدزي سره په خبروکي دخپل پخواني دریځ په ادامي ټینګار وکړ اودکابل اداري له رسمي او علني ملاتړ نه يي معذرت وغوښت .

احمدشاه "احمدزي" دننګرهار شوري دقانع کولو لپاره په کابل کي دمهمو سیاسي پدلونونو دراوستو په ګډون نوموړي شوري ته زیات امتیازات ورکول پیشنهاد کړل ، خو شوري یي قانع نکړای شوه.

(٣)مخ

به سلسلهٔ عملیات تصفیوی نیروهای شورای عالی هماهنگی :

ولایت باستانی غور ازشرنیروهای ربانی کاملاً تصفیه شد

چغچران - ١٥ سنبله

به ادامه عملیات تصفیوي نیروهاي شوراي عالي هماهنگي درنقاط مختلف کشور ، ولایت باستاني غور باهمه وسایل ووسایط نظامي وغیرنظامي به دست نیروهاي شوراي عالي هماهنگي فتح شد .

مولوي ترکستاني يك نطاق شوراي هماهنگي دراسلام آباد به خبرنگار شهادت اطلاع داد ، طي این عملیات تصفیوي همه نقاط ولایت غور از وجودنیروهاي کابل بدستِ نیروهاي شوراي هماهنگي شکست خورده ودرحال فرار اسماعیل خان وشوراي نظار تصفیه شد ومقادیر زیاد اسلحه ، مهمات ووسایل نظامي اداره افتاد،وافراد ان اسیرشد .

مولوي ترکستاني افزود ،بعداز تصرف کامل ولایت غور امروز سران اقوام مختلفه ، موسفیدان وعلماي آن ولایت تشکیل جلسه دادند تا در مورد تشکیلات اداري ولایت و تعین والي جدید با هم مذاکره کنند.

موصوف گفت : نتایج این جلسات ومذاکرات بزودي اعلان خواهد گردید.

زیری زیری زیری

دحزب اسلامي افغانستان د ارشاد او فرهنگ ریاست پتیلي ده چي پـه راتلونکیونژدي وختونو کي هـره ورځ دشهادت ورځپانه په پرله پسي توګه خپره کړي، دشهادت اداره ددرنو لوستونکیو وړاندیزونو،لیکنو،انتقـاداتو، نظریاتو اواعلانونوته ستړګي په لار ده . (اداره)

جنرال متقاعد اسلم بیگ :

آنچه امروز درافغانستان می بینیم نتیجهٔ اشتباه مرحوم جونیجو است

لاهور - ١٣ سنبله

جنرال متقاعد اسلم بیگ رئیس اسبق نیروهای زمینی اردوی پاکستان در يك مجلس مذاکره راجع به " روزدفاع پاکستان " گفته است که نظر وموقف ضیاءالحق شهید درمورد معاهدهٔ ژنو درست واصولی بود.

جنرال اسلم بیگ افزود.

آنچه امروز درافغانستان می گذرد ، نتیجه اشتباه مرحوم محمدخان جونیجوصدراعظم اسبق پاکستان است که بدون موافقهٔ جنرال ضیاء الحق معاهده جینوا را امضا کرد.

قابل یاد آوریست که شهید جنرال ضیاءالحق رئیس جمهور قبلی پاکستان درمورد موافقت نامه ژنو نظر منفی داشت

ص (٣)

آیا سقوط هرات ناشی ازاختلافات مسعود و اسماعیل خان بود ؟

اختلافات میان احمدشاه مسعود واسماعیل خان ازمدت ها قبل وجود داشته به نظر برخي ناظران مسایل سیاسی - نظامي افغانستان سقوط پایگاه هاي عمده و بزرگ نظامي اداره کابل درغرب کشور ناشي ازهمین مخالفت هابوده است .

براساس گزارش ها اختلافات موجود میان احمدشاه مسعود که همه امور نظامي اداره کابل رابدست دارد واسماعیل خان قوماندان عمده دراین اداره درولایات غرب و جنوب غربي کشور ، زماني عمیق ترگردید که اداره کابل کمیسیوني را جهت اداره امور ولایات مذکور تعین نمود.

مسعود میکوشید علاءالدین معاون اسماعیل خان را تقویه کند وبرخي ازاختیارات اسماعیل خان ازجمله امورنظامي رابوي بسپارد وهمه نیروهاي این اداره در غرب کشور را تحت فرمان وي قراردهد.

استاد رباني که برخلاف مسعود ، اسماعیل خان رابرعلاءالدین ترجیح میداد بنابر فشاري که او را تهدید میکرد باتشکیل کمیسیوني که اداره امور ولایات جنوب را بدوش داشته باشد توافق نمود، اسماعیل خان ، علاوالدین داکترعبدالله سخنگوي وزارت دفاع وصدیق چکري وزیر قبایل اداره کابل اعضاي این کمیسون انتخاب شدند وعلاوالدین راقوماندان عمومي نیروهاي اداره کابل درغرب کشور برگزیدند. این امر موجب کاهش قدرت وصلاحیت اسماعیل وهمچنان ایجاد پراگنده گي درصفوف این نیروها گردید . اداره کابل بحدي علاءالدین را آزادي داد

ص (٣)

په پیښوزکي دهماهنګي شوري استاځي مهمه غونډه کوي

پیښور د وږي ١٥

نن په لسو بجو په پیښورکي دمجددي صاحب په کور کي دهماهنګي شوري استاځي مهمه غونډه کوي او په هغي کي به پرروانو وروستیو مهمو اوچتکو انکشافاتو هر اړخیز بحث وکړي.

دهماهنګي شوري یوي منبع شهادت ته وویل چي په دي غونډه کي به دهماهنګي شوري په راتلونکو پلانونو اودریځونو بحث وشي . اودمنظوري لپاره به قیادي هیئت ته وړاندي شي.

په پام کي وه چي غونډه پرون وشي خودجنبش داستاځیو مولوي عبدالباقي "ترکستاني " او ډاکتر هاشم "زارع" دنه رارسیدو په وجه وځنډیدله .

شهادت
ارگان مرکزی حزب اسلامی افغانستان

بیانگرعقاید وارمانهای حزب اسلامی افغانستان
صاحب امتیاز: حزب اسلامی افغانستان
مـؤسس : انجنیرحکمتیار
نــاشــر : ریاست ارشادوفرهنگ
تحت نظر هیئت تحریر
تـلیفـون : ۲۵۶۳۷۸۹
آدرس پستی : ۱۰۳۶ یونیورستی تاون -پشاور

که احتیاط ونشي ... ؟

په دي وروستيو کي چي دهيواد په لويديځ‌اوجنوب لويديځ کي کومي پيښي وشوي ، هغو دقدرت معادله بدله کړه ، نظارشوري اوملګروبي لويه ضربه وخوړه ،داسي ضربه چي دجبران چانس يي نه ليدل کيږي.

نظارشوري چي دڅهار آسياب اودريمي کارتي په نيولو کوم غرورکاوه ، هغي ته يي د "سوپر سويه" وي ، تصور يي داو چي نور يي دواکمني دپراخيدو دلاري خنډونه يو په بل پسي په اوبه کيږدو دي ، دمخالفينو اضمحلال يي حتمي دي ، کيداي شي وخت واخلي او ياڅوك وراندي شي ،څوك وروسته خوورو ستي ماتي يي حتمي ده.

نظار شوري دټولو قوتونو پرخلاف د زوور خبره ونيوه ،سياست يي په دي بناکړ چي مخالفين به يي يادنظارشوري برلاسي اوقيادت مني اويا به نابوديږي.

"رباني" به په چهار آسياب کي د حزب اسلامي موجوديت يوه توره دوره ګڼله چي تيره شوه او بيا به هيڅکله نه راګرځي.

مسعود چي کله چهارآسياب ته ورغي او دوروور حکمتيار ددفتر په انګرکي ودريد نو ويل يي چي دا هغه ځاي دي چي "حکمتيار" تري زموږ پرخلاف د(۲۵) کاله جګړي کولو اعلان کاوه .

سرويس ته دحزب تر راتلو وروسته دنظار شوري اورباني وينډوي ويل چي "اوس نوي اوضاع منځ ته راغله ،څيني جريانونه حذف اوځيني را ښکاره شول ، بايد معادله له سره مطالعه شي .

اووګتل شي چي څه کيداي شي ."

هغوي فکر کاوه چي براځي حزب اسلامي وچي ددوي دواکمني خوبونه يي ګډوډ کړي و، او چي کله هغه له کابله لري شو ، نور به افغانستان وي اوددوي واکداري،مګر دوي نه پوهيدل چي دوي په‌خپله يو مصنوعي جريان و ، يو ټپل شوي‌قابض اونامشروع واقعيت و ، په ملت کي يي په خلاف دنفرت څپي اوښتي راوښتي ، دوام يي په هيڅ معيار اومعادله ممکن نه وه ، له دوي سره نه ولسي ملاتړ و، نه بل راز قانونيت ، نه ښه قيادت ، نه کوم پيغام اومنطق اونه هيڅ راز معقوليت ، دوي يو داسي جريان و،چي نه يي دملت له جوړښت اومشخصاتو سره ارخ لګاوه او نه يي په هيڅ توګه يوه اجتماعي تقاضااوملي اړتيا پوره کوله . په دغسي يوه حالت کي که له دوي سره لږهم شعور واي ، ضميرونه يي ديي احساسي په مرګ نه واي مړه ،عقل يي درلود اي او واقعيتونه يي درکولاي شواي ، بايد سوچ يي کړي واي چي داهيواد خو دټولو دي ، په دي کي ديوه قوم ، يوي ولسوالي او يوه ګروپ ټيکه داري نه ده ، چي بايد ټول محروم وي ، ټول پردي وي ، ټول لاسکتوي وي اويوه خاصه ډله اوخاصه سيمه دي دوطن دسرواوسپينو دمالکيت دعوه وکړي.

ددوي دي تاوره ميلان اوناسالم روش په ملت کي يونفرت ،يوه عقده او يو قهر راوپاراوه ، دولس يوي لويي برخي ته يي دمحروميت احساس ورکړ ، او هغوي يي په لوي لاس اوشوق مقابلي ته راوپارول .

اساساً همدغه عوامل وو اودي چي نن دافغانستان يوه لويه برخه درباني داداري په ضد دغوسي اوکرکي يوه څپه ده اودڅپه دومره زورووره ده چي په حيرانوونکي چټکتيا يي له ټول جنوب غرب نه ټغر ورټول کړ.

که دوي اوس هم په خپلو کړنلارو تجديد نظر ونکړي ،نږدي بدانجام يي په مخ کي دي. داسي وخت پري راتلونکي دي چي بيابه ورسره دهيڅ نوي سوچ فرصت وي او نه داقدام اوعمل کولو.

همدا اوس هم موقع لري چي دماجراجويي لاربريږدي . او دټولو په خوښه دبحران دحل کولو غږوکړي . ددي ملت دسرنوشت ټاکلو حق دولس ويولي ، دملت قضاوت او ټول داستحقاقونو معيار وګڼي اويابالاخره په دي باور وکړي چي داصولو ، ملت،دارادي اوزماني دمنطق اواقتضا پرخلاف جګړي ، دتاوان او خسران جګړي دي اوتر اوسه چا ددغسي جګړو ګټونکي نه دي ليدلي.

همدارنګه موږ دنظار شوري دمخالفينو هم ايماني وجيبه ګڼو او داپري دملت مسلم حق يولو چي اتانيتونه پريږدي ، په اوسني حالت يي ځايه مغرورتني بلکي هره لحظه دبحران حل اوله روان سوځنده حالت نه دخپل ملت ايستل په نظر کي ونيسي.

دهغوي دجګړي هدف خو دنظار شوري ځپل او ديوي سيمي لاندي کول نه دي ، هدف دادي چي اوضاع بدله شي ملت نجات ومومي اوهيواد بچ شي .

که نظارشوري‌ځب ځب شي او دوينو يي خداي ناخواسته لښتي وبهيږي ،خو بحران حل نشي ، نو خدمت نه بلکي خيانت شوي ، ځکه معني يي داده چي يوقوت جوړشوي ، يوه موقع پيداشوي ، يوه زمينه ايجادشوي ده اوله هغي نه دګټي نه اخيستو کفايت نه دي ښودل شوي ، دهغي د سم استعمال اهليت نه دي ثابت شوي او بالاخره يومسؤلانه عمل نه دي شوي .

دنظار شوري مخالفين بايد وپوهيږي که دوي هغه غلطي وکړي چي احمدشاه مسعود وکړي ، دوي به هم له هغه انجام سره مخامخ کيږي چي مسعود ورسره مخامخ شوي او دمخامخ کيدو په انتظار کي يي دي .

مسعود ته چي څه دپاسه دري کاله دمخه کومه موقع په لاس ورغله ، هغه په تاريخ کي ډيري کمي چاته ترګوتو کيږي ، ټول احزاب يي ترشاودريدل ، بين المللي ذهنيت يي موافق شو او ديوي لويي مبارزي د"فاتح "په توګه تبليغ شو ، مګر چي احتياط يي ونکړ ، ځان يي ورک کړ ، داقتدار او غرور جنون واخيست نن يي ګورو چي منفور اومحکوم دي او که ځان له دي حالت نه ونه باسي ، ديوه ژور ګړنګ په خوا روان دي .

بايد مخالفين وپوهيږي چي که احتياط ونکړي ، له وقت نه کار وانه اخلي او په منطق اومعقوليت له پيښو او واقعيتونو سره چلن ونکړي ، بحران لاپيچلي کيداي‌شي اودجګړي ډيني دخطرناك کيدو ،اوږديدو اوبدرنګه کيدو احتمال ډير زيات دي.

په همدي وجه دجګړي دهمآهنګولو ،منطقي کولو، ګرندي کولو اوبي تلفاته کولو چاري ته بايد ټول قوتونه که طالبان دي اوکه همآهنګي شوري،ډيرتوجه وکړي؛که داوشي ،انشاءالله دبحران دحل هيلي يوځل بيا راتانديدونکي دي.

نامهٔ ازمونشن

اخیراً افغانهاي مقیم آلمان نامه اي عنواني برادر حکمتیار امیر حزب اسلامي افغانستان ارسال داشته اند که ذیلاً متن کامل آن را مطالعه میفرمایید.

برادربزرگوارومجاهد عزیزحکمتیارا
السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته .

نخست ازهمه صحت وعافیت شماراازبـــارگاه رب العـزت تمناداریم . امیدوارهستیم ازآزموئی که دراین شرایط حساس کشورشمابه عنوان یگانه رهبرقاطع مجاهدین باآن مواجه هستید ، بالطف وعنایت الهی سرفرازوموفق فارغ گردید.

باوجودیکه آرمان وآروزی همه امت اسلامی این بود که افغانستان بعدازسقوط نظام کمونستی شاهداستقرارآن نخستین حکومتی گردد که بعد ازانحطاط مدنیت هـــای مسلمین درقــــرون اخیریك باردیگرعظمت اسلامی رااحیاء ، وبرای همه ملت های مسلمان نظام نمونه والهام بخش گردد ، ولی فتنه های دشمنان اسلام مجاهدین هدفمند رادرراه رسیدن به این آرمان باسخت ترین موانع روبروگردانیدند که درجریان سالهای جهاد کمترپیشبینی آن میشد .

شکست ائدیولوژی کمونستی ، اضمحلال نظام استکباری شوروی وبلاك وارسا وبالاخره خاتمه، دشمنی شرق وغرب تحت عنوان جنگ سرد ، نتائجی‌اند که بدون شك ازجهاد ملت افغانستان متاثرگردیده اند ، ولی درعین زمان این نتائیج عواملی به بارآوردند که درآخرین مراحل جهاد باعث دلخراش ترین وجبران ناپذیرترین وقایع تاریخ کشور ماگردید ، دولت هایی که تاقبل ازاین درضدکمونستی بودن وضد شوروی بودن جهاد افغانستان دلچسپی داشتند بعد ازرسیدن به اهداف سیاسی شان ، داعیه جهاد اسلامی برای شان به عنوان خطرجهانی مطرح گردید وحقاکه شمابرادرمجاهد درهمان سالهای اول جهاد می گفتید که شرق و غرب هردوبه یك سویه ازناحیه، اسلام احساس خطرمی کنند .

روی همین واقعیت برای اینکه ازین خطر خود رامصئون سازند ،برنتایج جهاد مابه توطئه هاوفتنه هامتوسل شدند ودراین راه ازهمان عناصراستفاده کردند که درطول دوران مقاومت وحتی از آغازنهضت اسلامی مانند چراغ نامرئی درصفوف مجاهدین جاگرفته بودند وازتغذیه، خون شهداء ، خودها رابه مقام رهبری هارسانیدند،

باید اعتراف کنیم که مادرتشخیص این عناصراشتباهات جبران ناپذیررامرتکب شدیم .

مامی بینیم که این عناصربی مروت بعد ازتکیه زدن به کرسی قدرت بدترازکمونست هاعلیه حزب به تبلیغات ناروا وپوچ دست زدند . آنها فقط برای اینکه چندروز دراقتدار باقی بمانند باسخت سرترین دشمنان اسلام راه سازش راگرفتند وبه عنوان اینکه گویاحزب یگانه «رقیب» قوی سیاسی اش مطرح است باشعارهای غربی که گویا «بنیاد گرائی اسلامی» گهواره «دهشت افگنی بین المللی» میباشد وحزب اسلامی حامی اصلی آن است ، همنوا، شدند تابتواند فشارهای بین المللی رابالای حزب تشدید بخشند .

برادرمجاهد :

میدانیم که حزب به عنوان چرخ اصلی نهضت اسلامی تحت سخت ترین فشارهای تاریخ مبارزه اش قرارداده شده وشمابه حیث یگانه وارث زنده ازمؤسسین این نهضت بادشوارترین روزهای تاریخ مبارزه اسلامی تان روبرو میباشید . ولی ماوتمام مسلمانهای که ازجریانات واقعی جهاد افغانستان مطلع اند و درحفظ امانت پیام خون شهدا ، احساس مسؤلیت می نمایند ، دراین راه شما ویاران عزیزتان راتنها نه خواهیم گذاشت . مابه این عقیده هستیم که فتح ونصرت نهایی بدون شك ازآن مؤمنین است که با تمام دشواریهاومشکلات باصبروشکیبائی مقابله می کنند . ازپیروزی وفتح نهائي مراد ماتنها رسیدن به کرسی اقتدارمثلیکه دیگران رسیده اند نیست . بلکه به مصداق سخن گرانبهای برادربزرگواروشهید انجنیرحبیب الرحمن که باری برادری ازنزدش سوال کرده بود که « چه وقت مسلمانان به قدرت میرسند » وی درجواب می گوید : « هدف مااداء مسئولیت دربرابرپروردگار(ج) میباشد » .

آری !

باپیروی ازهمین اصل «اداء مسئولیت » خط مبارزهٔ ماتعیین میشود ،مبارزه‌ایکه مانند سالهای اول نهضت به عقیده ما ازروشنگری وکارفکری وتبلیغی دربین مردم باید ودوباره شروع شود ونسبت به همه، ابعاد دراین بعد ازقوت کارگرفته شود . زیراجریانات سالهای اخیرنشان می دهند که مردم ماتا هنوزهم ازاصل واقعیت حکومت ونظام اسلامی آگاهی ندارنده آنها درطول (۱٤) سال گذشته تنها شعارهای حکــومت اسلامـــی راشنیده انـــد وامروزبادرنظرداشت اوضاع ، اختناق ، ظلم وستم که تحت نام حکومت اسلامی بالای شان تحمیل شده ذهنیت آنها نسبت به آن مغشوش گردیده است ، طوریکه به اصطلاح عامیانه عنوان می کنند « اگراین حکومت اسلامی است ماراتبرازاین اسلام ».

به نظرمامردم حق دارند که نظریه فهم شان ازواقعیت های موجود حتی چنین تصوریکنند . آنهاازمجـــاهـــدیـــن وازداعیه‌جهاد بانهایت اخلاص دفاع کردند وآرزو داشتند که به مجرد به قدرت رسیدن آنها دیگردوران استبداد وستم به پایان میرسد وآن وعده هاي که مجاهدین برای شان درطول جهاد داده بودند جامه، عمل می پوشد . امااین همه آرزو هابه خاك وخون بدل گردید .

برادرمجاهد :

این تصمیم خردمندانه شماکه مجاهدین حزب راازمیدان مستقیم حرب امرکناررفتن دادید دراکثرحلقه های افغانی موردتائید قرارگرفته واکثراً تاجای که دیده شده اکنون به حقانیت مواضع ومواقف حزب اعتراف می کنند . مابه این نظرهستیم که حزب ازاین فرصت درقدم اول برای احیای نیرو های متعهد ومکتبی خویش استفاده کند وصفوف خویش رادرداخل وخارج ازکشور منظم نماید ودر مرحله دومی تمام قوت خود رامتوجه، کاردربین مردم ومطمئن ساختن آنها نسبت به حزب اسلامی که برای آبادی واعماریك افغانستان اسلامی چـــه برنامه های اقتصادی وعمرانی دارد بنماید .

مهاجرین مقیم مونشن که اسمای شان دراینجا ذکراند درحالیکه برای صحت وسلامتی شمابرادرمجاهد دعامی کنند ازخداوند منان مسئلت دارند که صفوف مجاهدین را ازافـــراد منافق ومخرب که

ص (۳)

ببرک «کارمل» ولی مسکوته ولاړ ؟

محمدنذیر «بشارت»

زه د ۱۳۷۲ کال په حوت کی له چهاراسیاب نه مزارته ولاړم ، دادا‌سی وخت و چی دهمآهنګی شوری دجوړیدو ابله دوه میاشتی شوی وی.

د هغی ورځی په سهار چی راتلونکی مابنام ته مو پرواز ؤ ،دسفر له یوه تن ملګری انصاری بلوچ (دحزب وحدت غړی) سره یوځای دشهید استاد مزاری دفترته ورغلم . هغه له خپلو دوملګرو ښاغلی "شفق بهسودی" او"الحاقی " سره ددفتر په انګړ کی لمرته ناست وو. په مونږ یی غږ وکړ چی " فکر مو کولو تاسی به په مزارکی یاست ."

ماورته وویل چی بس دنصیب خبره ده کنه ربښتیا هم باید اوس په مزارکی وای . ترروغبړ وروسته ورسره کیناستو.

دشمال خبری یادی شوی "شفق بهسودی" شهید مزاری ته وویل چی که په یوه مناسب وخت کی مزار ته ولاړشی ، هغه ځواب ورکړ چی که لږ اوضاع ښه شی ان شاءالله زه او انجنیر صاحب (حکمتیار) به ګډ ځو.

مجلس تود روان و ، دکومی خبری لپاره چی زه مرحوم استاد مزاری ته ورغلی وم ، دهغی دیادیدو موقع نه پیداکیده بالاخره می خپله خبره په یوه وړه ټوټه کاغذ ولیکله اواستاد مزاری ته می ورکړه .

ماورته لیکلی و وچی زه شمال ته دیوه ژورنالیست په توګه ځم ،

هلته یوه بیله وضع ده چی زمونږ دهیواد دهغی برخی له حالت سره چی مونږ پکی یو ، دیرزیات توپیر لری . زماله پاره هلته دبرنوی شیان دی دبیلا بیلو کردارونو په باب معلومات ترلاسه کول زما مهمه دلچسپی ده. په دی کردارونو کی یو ببرک "کارمل " دی . هغه دیوه خپلواك هیواد دخرخلاو سوداګردی ، ملی خاین دی ، دمزدوری اوبد ضمیری یوناوړه سمبول دی . دهغه درواڼشناسی ، منطق اوشخصیت مطالعه راته جالبه ده . خاصتاً چی ویل کیږی اوس دهغه په وجود او روانی حالت کی ددی ټولو بدنامیو،شرمونو او پیغوروونو انعکاس له ورایه څرګند دی.

که تاسی جنرال دوستم ته ووایاست چی مونږته دهغه دلیدو زمینه برابره کړی .

استاد مزاری راته وویل " جنرال دوستم مونږ ته منکر دی او وایی چی هغه ددوی په ساحه کی نشته "

شمال ته ترتللو وروسته په شبرغان اومزارکی زمونږ یوه مهمه پوښتنه دببرك کارمل دهستوګنی اونقش په باب وه .

د جنبش دهغو مسؤلینو له خوا چی زمونږورسره سروکارو، دببرك دهستوګنی په باب بی خبری څرګندوله اوله نقش نه یی په شدت انکارګاوه، دسفر په دریمه ورځ مو دمزارپه"قلعه جنګی " کی له جنرال دوستم سره د " اوپراسیون " په کوټه کی چی ټول پوځی معاونین یی ورسره ناست وو ،ولیدل . ټولو نظامی لباسونه اغوستی وو، مخی ته یی نقشی پرتی وی او دکندوزاو بالامرغاب په عملیاتوبی چی په توندی سره روان وو،خبری کولی.

کوټی ته زمونږ له ورننوتلو سره جنرال دوستم ترڅنه راغلاست وروسته دشمال په نظامی اوضاع ، دهمآهنګی شوری په جوړیدو ، له ربانی اومسعود سره دخپلو مخکښتیو اړیکو او خپلوراتلونکو پروګرامونوپه باب دوه ساعته خبری وکړی.

دخبرو په منځ کی یی دببرك کارمل موضوع هم یاده کړه ، په دی شکل چی اوس«استاد ربانی اداره مالا دوستم» په دی تورتوی چی ګویا زه پرچمی یم اوله ببرك "کارمل " سره رابطه لرم .

حال داچی ماتراوسه د پرچم ګوند اساسنامه هم نه ده لوستلی او له ببرك کارمل سره می تلیفونی خبری هم نه دی کړی . که هغه دلته په کوم ځای کی اوسیږی معنی یی دا نه ده چی ګنی مونږ ورسره کومه نظریاتی اوساز مانی رابطه لرو. په داسی حال کی چی داکتر عبدالله اوداکتر عبدالرحمن یووخت دببرك کارمل دخانه سامانو په څیر وو،جنرال دوستم توضیح نکړه چی څه وخت اوڅنګه !

جنرال دوستم وویل چی«هغه چا چی هم بی نظربی ماتی خوړلی،هم ده ماتی خوړلی ، هم منفوردی اوهم یی خارجی حامی طاقت شکست خوړلی،زه به له هغه څه مرسته او مشوره وغواړم .

په مزارکی زمونږ پنځمه ورځ وه چی همآهنګی شوری کندوز ونیو،مونږ کندوز ته ولاړو، هلته له دریو ورځو تیرولو وروسته مزارته دراتلو په لارکی هلیکوپټر په حیرتان کی کوز شو ، خو د یوڅودقیقو لپاره، ماد جنبش له یوه لوړرتبه جنرال ...نه وپوښتل چی ببرك کارمل ددی ښار په کوم ځای کی اوسیږی ، هغه وخندل او ویی ویل " داببرك کارمل " خوستا په حافظه کی تل حاضر ناست دی، هیڅ یی هیروی نه، دومره پوښتنه یی څنګه کوی ! »

ماورته وویل ببرك " کارمل "چی څه کړی ، هغه می دده هیریدوته نه پریږدی . هغه خو دتاریخ دیوه باب یوه مهمه څیره ده . دبدنامیو خیانتونو اوشرمونو" باب ".

نوموړی جنرال دحیرتان ښارد قاملیو یوی برخی ته اشاره وکړه او ویی ویل چی هلته یی کور دی »

اود ۷۰ می فرقی قوماندانی یی اعاشه کوی. هغه وویل دببرك کارمل اړیکی زیاتی له جنرال مومن سره ښی وی . جنرال مومن د ۷۰ می فرقی قوماندان و او په هماغو ورځو کی دهلیکوپټر دسقوط په حادثه کی وژل شوی و ."

جنرال مومن په قوم تاجك اود بغلان داندراب دولسوالی و. هغه د قومی گرایش په بنیاد اوډفرید مزدك اوکارمل په وسیله له احمد شاه مسعود سره نژدی اړیکی درلودی او همی په نامه له جنبش سره و خو ټوله همدردی یې له مسعود سره وه . چی کله له منځه ولاړ مسعود یې په ویرکی یوه ورځ نااعلان شوی ماتم وکړ. په شمال کی دمسعود دپلان یوه برخه داوه چی دجنرال مومن ۷۰ مه فرقه په هم د جنبش پرخلاف عمل کوی ، مګر څه تخنیکی مشکلاتو داپلان عملی کیدو ته پرینښود .

بیانوموړی جنرال دآمو سیند دغندی یوی برخی ته اشاره وکړه چی ببرك کارمل دبردلته را وځی اودسیند په غاړه ناست وی، دهغه روانی تعادل خراب شوی ، دنفرت ،کرکی ، مایوسی اوماتی یی قابونیسی یی په څېره کی له ورایه معلومیږی .

هغه داسی فکر کوی چی ټول کاینات تری نفرت کوی اوهرڅه ورته په سپکه ګوری ، له سیاست سره ډیر یی علاقی دی،

جنرال وویل چی یوه ورځ کارمل د آمو سیند پرغاړه ولاړو، سیند ته یی اشاره وکړه چی" فکرکوم زماوروستی آرامګاه به داسیند وی "

ترموی شپی وروسته یی بیا وویل " مګر نه پوهیږم چی داسیند به می وریږیږدی او که هغه به هم له منلو نه انکاروکړی.»

جنرال وویل چی زه او یو بل ملګری می له ده نه په لیری فاصله کی ولاړ وو، ملګری می وویل چی " که سیند یوه شی چی ستا په اوږو له یوه مظلوم وطن سره ددومره لوی خیانت پیټی بار دی ،ګومان نه کوم چی دریږی دی پړدی "

ترکومه چی مایه مزارکی له خبرو منابعو معلومات ترلاسه کړ، جنرال دوستم د ازبکستان او روسیی له دواړو حکومتونو غوښتی وو چی که ببرك "کارمل " خپلو هیوادونو کی ومنی دی به له یوی ستونزی خلاص شی،خو دهغوی ځواب ورته داو چی دوی کولای شی په حیرتان کی دببرك کارمل دهستوګنی لګښت ورکړی خودیوه توند افغانی عکس العمل دراولاړیدو دخطر په پام کی نیولو سره یې په خپلو هیوادونو کی له منلو

څخه معذرت غواړي،داچی ببرك "کارمل " په حیرتان کی دهستوګنی پروخت سیاسی نقش درلود او که نه زه پکی څه نشم ویلای . همدارنګه په دی باب چی آیا ببرك کارمل به دراتلونکی لپاره څه سیاسی نبتونه او فعالیت لری که نه اومسکوته به یی دبیولو انګیزه دمسکو کوم سیاسی هدف وی که نه ، په دی دقیقی خبری کول راته ګرانه ده،خو دا ټکی واضح دی چی روسانو دببرك دمنلو جرئت په دی وکړ چی دخپلو خاینو عناصرو له لاسه زمونږ د"جهاد "یاد ووت ، شوکت یی ختم شو اودملت د " زور " او عظمت " افسانه موماته شوه ، زمونږ هیواد برباد ،برباد شو، ملت مو په سلو بلاوو اخته شو ، خاوره مو د پردیو دمقابلو دګرشوه، له سرنوشت نه مو دبزکشی وزه جوړه شوه ، له داسی یوه ملت اوهیواد نه به څوك ووارشی ، هغه روسیه چی یو وخت یی وروستی جنرال دآمو پرهغه غاړه ویل چی بیا به کله هم افغانستان ته راشو ، نن دادی ګورو چی په هماغه افغانستان کی بیا لاس وهی اوورنګ او قبالی په بدلون زمونږ په هیواد کی حضور مومی .

نو په داسی حالت کی به مسکو زمونږ په عکس العمل او خپګان ولی حساب کوی. واقعیت دادی چی حساب پری نه کوی اوپه مسکو کی دببرك "کارمل" منل ددی موضوع یوه دحساب ورښته ده .

حکومت جوړول دملت حق دی

عبیدصافی

ددری نیموکلوراهیسی په افغانستان کی دجنګونواوقتلونولړی ځکه روانه ده چی دکابل غیرقانونی واکداران دملت له ارادی پرته دیکتاتوری اوتحمیلی حکومت جوړول غواړی ،طبیعی خبره ده چی کله دملت رواحقوق پایمالیږی اودهغه دوضااوغوښتنی پرخلاف حکومت اونظام مسلط کیږی نوملت خپل شدید عکس العمل ښیی اوپدی ترتیب د مسلط شویوحکومتی واکدارانواوملت ترمنځ دبی اعتمادی اوجنګ فضا رامنځ ته کیږی ،دپه زوره مسلط شوی حاکمانو زیات کوښښ اوهلی ځلی پدی مرکوزی وی چی ملت دهغه پرخلاف سراوچت نکړی نوځکه خپله زیاته انرژی په همدی لاره وقفوی ، چی په نتیجه کی په هیواد کی بدامنی بی اعتمادی او هر اړخیزی بدحالی ځای پر ځای کیږی،خو ملت کوښښ کوی چی له دغه مصیبت اوبلا نه ځانونه وژغوری ، تاریخ ثابته کړی چی په زوره تحمیل شویو دیکتاتوری حکومتونو اونظامونو ملت ته دفقر ، بی اتفاقی ، محتاجی اونفرت نه پرته بل‌څه په تحفه کی ندی ورکړی، اوچی کله هم ملت ته زمینه برابره شوی پرخلاف بی قاطع پاڅون کړی او له اقتدار نه یی غورځولی دی . په افغانستان کی دکمونست رژیم له نسکوریدو وروسته په کار ؤ چی دکابل ائتلافی واکداراتو دملت لویی قربانی ته په درنښت کتلی وای اودهغه دخوښی اوغوښتنی سره سم یی یومنتخب اونماینده حکومت دقیام له پاره هم غړی شوی وای ، لیکن له بده مرغه دکابل عاقبت نااندیشو حکمرانانو هغه څه ته لاسونه واچول چی نه ورته اسلام اجازه ورکوی او نه بین المللی قانون ، خصوصاً دافغانستان مسلمان ملت خو آمرانه اوتحمیلی حکومت ځکه نشی زغملی چی دملت ټولو وګړو دخپل هیواد دآزادی اواستقلال په خاطر په عملی جهادکـــی ګډون کړی او پدی لاره کی‌لاپنځلس لکه سرونه دالله په دربارکی نذرانه کړی ، هغوی دخپلی خوښی منتخب اسلامی حکومت جوړول،خپل روا اوقانونی حق ګڼی اوهیڅچا ته ددی اجازه نه ورکوی چی د هغوی دخوښی اورضا پرته حکومت وړاندی وکړی ، پدی کی هیڅ شك نشته چی افغانستان دکابل دجاه طلبو اوخودغرضو اقتدارخوښوواکمنانو دلجاجت اوخودخواهی به وجه داوړپه بټی بدل شوی ، که چیری له لمړی ورځی نه دملت رایو ، غوښتنو اورضاته پاملرنه شوی وای اودهغه پرخوښه دیومنتخب نماینده حکومت دجوړولو له پاره لاره برابره شوی وای نو افغانستان به له دغه تباه اوبدحال سرنوشت سره نه و مخامخ ، ټول هغه مشران اوعناصر چی اقتدار ته درسیدو چانسونه وینی اویا یې په لټه کی دی چی اقتدار ته ورسیری باید دا اصل اوبنیاد په دماغ کی وساتی چی اقتدار ته درسیدو اصل او سیخه لاره ملت ته درجوع لاره ده اوبواځی دملت له لاری کولی شی چی خپل ځان قانونی اقتدار ته ورسوی ، دکابل داوسنی مسلط شویو خود غرضو واکمنانو له جاه طلبی اوزورګیری نه داخبره ثابته شوی چی دافغانستان پرمسلمان ملت هیڅوك په زوره حکومت نشی کولی او چی هرڅوك داالاره تعقیب کړي نوانجام به یی خو برابره بدتر وی ، ټولو هغو تنظیمونو مشرانو ته چی په پوځی اوسیاسی ډګر کی موثر رول لری پکار دی چی له هرڅه نه مخکی پخپل ذهنیت کی مثبت سوچ اوفکر پیداکړی اودی مهم اصل ته غاړه کیږدی چی اقتدار ته دراتلو له پاره غوره اومهمه لاره ملت ته درجوع لاره ده ، باید دملت دعمومی رایو داستعمال په نتیجه کی حکومت جوړکړی شی ، دربانی اومسعود حکومت پرخلاف مبارزه کوونکو ټولو قوتونو ته ددی خبری اشد ضرورت دی چی له هرڅه نه مخکی په ګډه معاهده اواتفاق وکړی چی دربانی ناروا اداری له سقوط وروسته به په حکومتی ادارو ځالله خالله ځینی آچولو پرځای یو مشترك عبوری حکومت جوړوی اوپه ټاکلی موده کی به دیومنتخب حکومت دقیام په خاطر دملت آراو ته حتماً رجوع کوی ترڅو دملت په قاطع اکثریت یونماینده حکومت جوړاوافغانستان دامن ،استحکام او ورورولی کورشی .

یك هیئت حزب اسلامی

اسلامی محترم الحاج "فرید" عضو کمیسیون سیاسی ، ومحترم داکتر فیض الله کاکړ رئیس دافغانستان اسلامی پوهنتون بود، طی دیدارازگالری مجمع آرتستهای افغان بامحترم عبدالحی پوپلزایی مسئول این مجمع نیز دیدار واز کارهای هنری آن ستایش نمود .

خبرنگارشهادت می افزاید دراخیر یك تصویر بزرگ برادرحکمتیارکه توسط محترم پوپلزایی نقاشی شده بود ، به هیئات حزب اسلامی ، طورتحفه اعطا گردید که با اظهار امتنان پذیرفته شد.

دشپې په لسو

منبع دتیپانو له قوله وویل چی ددښمنو قواوو څخه تقریباً (۷) کسه وژل شوی او څوکسه ټپیان یی دجګړی له میدان څخه تښتولی دی.

حال دویلو لایق ندی

درستګی نام

میوند

زمری ، پړانګ ،لیوه او سپی ټول څیرونکي حیوانات بلل کیږي، پدې کې یواځې سپی که څیرونکی هم دی نو اهلي حیوان ګڼېدلی . پاتې نور څیرونکي هم دي او وحشي هم .

زمری که څیرونکی اووحشي هم دی خو دشجاعت دسمبول په توګه یادیږي.

څکه خوکه چانه څوك دزمري خطاب وکړي نه یواځې واچې خوا نه بدوي بلکې خوشاله کیږي اوویاړي هم . پاتې شول پړانګ اولیوه دانوموته نه لکه دزمري دشجاعت اوویاړ وړبلل کیږي او نه ددومره نفرت وړلکه سپی .

سپی سره لدې چې اهلي او وفادار حیوان ګڼل شوی او اصحاب کهف په ملګرتیا کې خوبي ډیر ښه نوم اوحتی مقام هم ګټلی خو سره لدې ټولو بیا هم منفور اومغضوب حیوان دی او که دسپي خطاب اوتړون له چاسره وشو نو خبره وژانه ویوله .

لیوه چې دځرسپي دوروری نوم وړبوری شوی که څه هم له سپي ښه ګڼل کیږي خو بیا هم څه ښه صفت بې څوك نشي یادولی.

دزمري مقبولیت دا هم دی چې دیرواسنانانو پخپلواولادونو ددغه حیوان نو مونه ایښي او ډیر مشرمشرخلك ویلو چې زمري اوزمرك نومونه یې دي خو نه پوهیږو چې ددغو خلکو دزمري کوم خصلتونه خوښ دي چې په نامه یې خوشالیږي اوویاړي، خود پړانګ اولیوه دنوم هیڅا هم دځپلولوجسارت ندی کړی.

دلیوه ځیل خصوصیات دي زیاتره له ویرو خلکو سره دلیوه مشابهت کیږي اوپه مشومواردو کې دانوم هم نه استعمالیږي خودومره ناوړه هم نه ګڼل کیږي لکه دسپي .

خودپړانګ ځیل هیڅ شناخت او پیژندګلوی نشته دادزمري او لیوه ترمنځ یو حیوان دی ښه یې له اوډیره زمري نه وړته معلومیږي خو خصلتونه یې له زمري سره هیڅا هم اندوله نه دی ګڼلی.دپړانګ په هکله له خلکوسره یومنفي ذهنیت دادی چې کم اصل معرفي شوی . یوافسانوي روایت داسي راغلی چې یوچاله پړانګ سره ډیر ښه کړی و او له مرګ نه یې ژغورلی ؤ خو چې دده وار ورته برابر شونو پرهغه یې هم داړي راوایستي . زمري دځنګل پادشاه هم ګڼل شوی خو دپړانګ دهیڅ دول حیثیت څه یا دونه نده شوی.

داسې ښکاري چې څه رګ د پیشو هم ورګډوي .دګبدړي هم ورسره څه رشته اوشباهت دی څکه خوبې دده شناخت اواوصاف هم ګډوډ کړي اوتاریخ یې ورته مسخه اوخراب ګرځدی.

په کابل کې خو اوس نه ژوبڼ پاتې دی چې کوم ماهر پدې رابطه تحقیقات وکړي اوله هم دا حیواناتو سرشرګي جوتولی شي څکه حالاتو له یوی مخې دوحشت او حیوانیت لوری نیولی .

زما لدغې اوږدې مقدمې نه داستاد سیاف دهغو القابو په اړه یوه یادونه ده چې لکه د کابل واکمنو جنرالي او نوري رتبې چې په سخاوت یې دحاتم طایي قبرهم لړزولی دی ، دیوی خاصي دلیږ نوازش پری کړی .

په کابل کې چې درتبو اوجنرالیو باران اوړلی داڅوکاله په اوریدو دی استاد سیاف ایله ځپلو اندیوالوته دتامبل دپړانګانو رتبه اولقب پیداکړی شوه.

زه نه پوهیږم چې استاد به دکومې تجربې اومهارت له مخې ددوی او پړانګ ترمنځ په شباهتونو تحقیق کړی وی او داتنیجه یې ته رسیدلی وي . کیدی شي استادسیاف دپړانګ په لقب ورکولو پدوی کې دپړانګانو دخصوصیاتودزرغونیدو څه ولری اودچادویرولو او داړولو شوق یې کړي وي.

دتامبل دپړانګانو دستراتیژي اوجګړه اتیز سیاست اوماضي په اړه ماته هیڅ معلومات نشته چې هغوی به دځانونو لپاره دانوم څنګه خوښ کړی وی.

په ځپله به یې خوښ کړی اویا به هغوی ته هم کوم استاد سیاف ددغه لقب لطف کړی وي.

که له استاد نه پوښتنه وشي ممکن دی یې هم دځپل ساحرانه تقریر په څپو کې بیاهم تشریح اوتوجیه نشي کړای خو دده دادلچسپي اوانتخاب هم هیڅ یې هیڅه ګټل ندی پکار .

نوم ایښودل څه معمولي خبره نده .پدې کې لازم دقت په کاردی دابو شرعي حکم دی چې دنامه په انتخاب کې باید ډیره پاملرنه وشي که نه نولکه داستادسیاف غوندي به لداسې مشکل سره مخامخ وي چې ١٤ کاله وروسته به دنامه بدلولوته اړوي او هغوی به بیا دومره پوهه ، ژړنې مهارت اوځیرکتیا له کومه کوي چې له عبد الرسول نه عبد رب الرسول جوړکړي - دابو اځې داستاد مشکل نه و دیرنوریې هم په ستونزو ورسره اړولي و.

په اووګوني اتحاد کې یوځل د وحدت اسلامي چلوونکي اوده ته کاوکوونکي پدې کسرمعاش شول چې عبد رب الرسول یې عبدالرب الرسول لیکلي و . دعبدالرب الرسول اوعبدرب الرسول دواړو مطلب همدا استاد سیاف و، خو ملایانو ویل چې عبدالرب الرسول داسې څه افاده کوي چې شرعي جواز نلري.

نوري څیروني هم پدې عذاب اخته دي حتی ځپل اخبار اتحاد اسلامي یې هم په هره ګڼه کې دده نوم په یو اوبل ډول لیکي

داستاد "سیاف په قول دتامبل پړانګان دچوکیو په وړکه پسې دادري څلورکاله دلیتون خواري پیل کړي .کله یې لکه دتبلیغاتو په شان دوزیراکبرخان مینې په جومات کې بستري غوړولي کله په انټرکانټیننټل کې دوی دری کوټې په لاس ورغلي اوکله هم لاددغې ورکې په لټون پسې کوربه اوږو " خانه بدوش » ځپلې هڅې جاري ساتي .داډیره مهمه ږله ده اوپدې یقین لري،چې څوټې پسې وهي په لاس به درشي - چا ویل چې په دریاب کې ګوهر نشته . څکه خونهیلي شوي ندي او دځپل په شاتګ پلونه وران ګڼي.

یوژمې خوبې دمولوي جلال الدین حقاني په اصلاحي شورا په همدې تلاشونو اوتلوسو کې تود تیرکړهلته خوبیا ښه وه په شمالي کې یې دځمکو دپیرودلو کار نه مخکې کړي او دپلخرچي دپوځي وسایلو تجارت هم هغه سوړ ژمې پری تور هم ګرم کړي ؤاو په پای کې ایله خبره په دي پای ته ورسیده چې استاد رباني ددوی د دیپلوماتیك پاسپورتونو دغوښتنې په عریضه دخدمتي پاسپورتو نو داجرا په احکامو تقدیر کړی وو.

په اصلاحي شورا کې ددوی په وتنه اوجهت څوك سم نه شوای پوهیدلی،چې دوی واقعاً دسولې لپاره زړونه سترې کوي اوکه ترکاسې لاندې دنیم کاسې لوبه یې پیل کړیده .

خو دا په واګه شوه چې دوی به په باغ بالااوکله هم پغمان کې داصلاحي شورا له تصامیمو څخه دمخه دسیاف صاحب ذهن روښانه کاوه داله استاد سیاف سره ددوی ارادت څرګندوی.موږ دا نه وایو چې ګنې دوی جاسوسي کوله . دچادذهن روښانول څه بدکار ندی دخیر کاردی اوتقدیر ول یې په کار دی . مو لوی حقاني بیچاره دتامبل له پړانګانو سره داصلاحي شوراپه انهیوالي کې دځومیاشتو هلوځلو خطر ونو اومصارفو په زغملو سره یې له ناکامي بل هیڅ ترلاسه نشوای کړای په حقیقت کې دهغه بده ورځ هم ددوی له لاسه وه خودتامبل پړانګانو د خدمتي پاسپورتونو په ترلاسه کولو اودشمالي دځمکو او دکماړونو په تجارت سرلوړی شول، خو داتجارتونه اوسوداګری له دوی نه ځینو کوچیانو اوتورو هم په ښه توګه کولای شول اوکوی یې، اصلي خبره دڅوکیو اوهغه هم دوزارتونو اوسفارتونو وه څکه خوبې دڅوکیو تنده ماته نشوه اودغسي تندې داسې وزمولول چې دسیاسی جل وهلو بیدیاته یې سم کړل او په یوه داسې سراب واوښتل چې دحقیقت خوبونه یې دتل له پاره یې تعبیره پاتې شول

